مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۸/۵

# فضا تږلې ده له سترګو روښنايې تښتوي

تا چې زموږ ځوان ارمانونه د ژوندون قربان کړل
کونډې پر اوښکو لژند، دا خپل بچي يتيمان کړل

پر خپله خاوره، مور مقام ته دوه لاسي کړو سلام
تاريخ پرې وياړې چې رالوي اتلان ځوانان کړل

هر هېواد وال زړه کې له درده يو جټکه پورته شوه
ساقي توبه کړه، ميخانه کې يې مات ټول خمان کړل

زلمي او پيغلې د ايوب او ملالۍ پر لار ځي
يووالي لور ته چې يون وکړ، هغوي يې روان کړل

زموږ د غرونو لوړ سرونه ترابان ديو ښاري
لار د خلاصون هله مونده شی که يې پوه پرځان کړل

د ګيله من شهيد سره وينه غورزنګونه وهي
بابيزه مه ګنئ، اسمان او زمکه يې سم لړزان کړل

موږ له ګودره راستنې وو پرمختګ پر هيله
ښوونځي وتړل شاتګ يې نړيوال حيران کړل

هوډ مو وو دا چې قلم اخلو او تياري رنوو
خبرې نه وو چې واکدار مو بې سواد مشران کړل

کور کې مو پلار او مور ته ژاړو يوو تيارو کې پاتې
واکدار مو شاته تمبوي، زړونه يې خپل بې ايمان کړل

دا څه خيرات نه دی ظالمه اسلام حق راکړی
څوک چې له حقه منکريږی خداي(ج) کورونه وران کړل

هېواد ساتنې ته نړۍ لري د علم اړتيا
په پرمختګ سره يې پيغلې ځوانان ټول ودان کړل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ